# ALAMEDA COUNTY COVID-19 HEALTH EMERGENCY PRESS RELEASE

COUNTY OF ALAMEDA ★ CALIFORNIA

**Office of Emergency Services**
4985 Broder Blvd, Dublin, CA 94568

**Alameda County Health Care Services Agency**

د بیړنی خپروني لپاره:

23 اپریل 2020

نیټو بالرام، د عمومي معلوماتو منېجره

د ایله میډه کاؤنټۍ د عامې روغتیا وزارت

**د ایله میډه کاؤنټۍ د عامې روغتیا وزارت اوسیدونکو ته خبر ورکول کیږي چې د شیلټر ان پلېس آرډر په ترڅ کې په خوندیتوب سره په کور کې روژه تیروي**

ایله میډه کاونټي -  د ایله میډه کاؤنټۍ د عامې روغتیا وزارت خلکو ته یادګیرنه کول غواړي چې د شلټر ابن پلېس آرډر د ګڼي ګوڼي نه خلک منع کوي او له دوی څخه غواړي چې په کور کې پاتې شي، پرته له هغه چې څه مهم کارونه وي. دا امر (Order) به د مۍ د 3 مې پورې لاګو وي او له اړتیا سره سم بدلیدی شي.

لکه څنګه چې زموږ د مسلمانانو په ټولنه کې د روژې میاشت پیل کیږي، لطفاً کله چې د څه مهم کارونو لپاره له کور څخه ووځۍ، په شلټر ان پلېس او مخ ته په ماسک اچولو سره د کووېډ-19 د خپریدو مخنیوی وکړئ. له هغه کسانو سره، چې په ورته کورنۍ کې ستاسې سره نه اوسیږي، اړیکې محدودول نورو ته په بې خبره توګه د ناروغۍ د خپریدو په مخنیوي کې مرسته کوي.

لطفاً په یاد لرئ چې جوماتونه به د لمانځه لپاره تړلي وي او د ټولنې هر ډول یوځای کیدنه منع ده. شلیټرنګ این پلېس آرډر دا معنی هم لري چې له خپل کور څخه په دې موخه مه ووځئ چې خیراتي خوراک تقسیم کړئ یا د داسې کورنۍ یا ملګرو سره لیدنه وکړئ چې په ورته کورنۍ کې نه اوسیږي.

موږ خپل ټولنو ته وړاندیز کوو چې عبادت په کور کې کوئ او د روژه ماتې (افطار) یا په جومات کې د ماخوستن مونځ (تروایح) کولو لپاره مه راټولیږئ او د عبادت لپاره د روژې په اخري لسو ورځو کې عبادت (اعتکاف) ته مه کینئ. په داسې حال کې چې موږ ته نه ده معلومه چې د مۍ په اخره کې به د شلټر این پلېس لارښوونې څه وي، خو داسې ا مکان شته چې د روژې په پای کې به تاسې د اختر په ټولنیز لمانځونو کې ګډون ونه کړئ.

دا لارښوونې د شمالي کیلي فورنیا د اسلامي شورا د مشرتابه په مشوره چمتو کړل شوې دي. په دې خبره دلته ټینګا اچول ضروري ده چې د شخصي راټولیدو ځنډونه د عبادت څخه منع کول نه دي. موږ تاسې ته وړاندیز کوو چې د روژې او صدقې ورکولو په دې سپیڅلي او مهمه میاشت کې د خپل عالمانو څخه مشوره ترلاسه کړئ.ګڼ شمیر جوماتونه د انټرنیټ له لارې ورچول خدمات وړاندې کوي.

ډاکټر هاتم بېزیان، د شمالي کیلي فورنیا د اسلامي شورا مشر وایي، ((په داسې وخت کې چې مسلمانان د روژې لپاره چمتووالی کوي، د کووېډ-19 وبا د دې ټولنې لپاره اوس هم یوه ستره اندیښنه ده او پکار ده چې مذهبي رسومات او عبادات په داسې ترتیب او بېلنس ترسره کړل شي چې خپل خوندیتوب او د نورو خیربښیګړه په پام کې ونیول شي)).

د دې سرچینو لپاره، چې څنګه په خپل کور په خوندیتوب سره خپل مذهبي رسومات ترسره کړئ، دا ویب پاڼه وګورئ
http://www.acphd.org/media/570945/covid-19-ramadan-holiday-2020.04.23.pdf

د ایله میډه کاونټۍ د عامې روغتیا د وزارت څخه د روغتیا موقتي افسر، ډاکټر ایریکا پېن وایي، ((په دې سختو حالاتو کې، په ټولنیزه توګه په تماس کې پاتې کیدل د ذهني او روحاني روغتیا ساتنې یوه مهمه برخه ده، په داسې حال کې چې فزیکي واټن وساتل شي)). ((دا څرګنده شوې چې زموږ هلې ځلې رنګ راوړي او موږ د خپلو خلکو ممنون یو چې د یو بل د خوندیتوب او روغتیا په موخه دې سختې ستراتیژۍ ته خپله ژمنتیا ښایي. روژه مو مبارک شه او موږ د خوندي لمانځونو لپاره هیله من یو)).

د دې نوي کورونا ویروس د خپریدنې د مخنیوي لپاره په کور کې پاتې کیدل، په تکرار سره لاس مینځل، د کور څخه د ضروري کارونو د وتللو پرمهال خپل مخ پټول او له نورو سره 6 فټه فاصله ساتل اوس هم ترټولو غوره لارې چارې دي.

د کووېډ-19 په اړه د نورو معلوماتو لپاره، لطفاً http://www.acphd.org/2019-ncov.aspx وګورئ. د شیلټر این پلېس آرډر په اړه د تکراري پوښتنو لپاره https://covid-19.acgov.org/index.page وګورئ.

| MEDIA | PUBLIC | PHONE |
| --- | --- | --- |
| EOC-PIO@acgov.org | Covid19compliance@acgov.org | 925.803.7890 |

Alameda County Social Services Agency

Alameda County Health Care Services Agency